

د عامې روغتیا وزارت

لومړی پړاو - څلور ویشتمه ګڼه

۱۴۴۷-۰۸-۱۷

# روغتیا اوونیزه

## پرلیـــکه خپـرونه

- هېواد کې په لومړي ځل د سرطان ملي روغتون پرانیسته!
- د درملتونونو د بیا ثبت پروژې لپاره د 60 تنو سروې کوونکو ګومارنه!
- د غزني سیمه ییز روغتون نیمه پاتې رغنیزو چارو بشپړاوي په موخه ناسته!
- د روغتیا ملي ستراتیژۍ د مسودې نهایي کولو په موخه مشورتي ناسته!
- د ننګرهار یو شمېر روغتونونو ته د 50 زره ډالرو په ارزښت د طبي وسایلو ورکړه!





## For the first time in the country, the Ministry of Public Health of the IEA inaugurated a national hospital for cancer diagnosis and treatment, which has commenced its services.

The ceremony was attended by the Minister of Public Health, Mawlawi Noor Jalal Jalali; ministry deputies and directors; representatives of government institutions; the Iranian Ambassador to Afghanistan, Ali Reza Bigdeli; and representatives of international organizations and the media.

His Excellency Mawlawi Noor Jalal Jalali stated that the hospital is being inaugurated through joint efforts and is expected to become a source of treatment and hope for cancer patients. He added that specialized training programs for internal specialists will soon begin, with necessary improvements underway to provide advanced facilities.

The Minister added that, with India's cooperation, radiotherapy services will be provided at the hospital. India has so far contributed one million dollars in aid for cancer treatment, including ten tons of medicines and medical equipment. He also urged the public, especially investors and charitable organizations, to support cancer patients.

The Deputy Minister for Health Services, Mawlawi Abdul Wali Haqqani, said that over the past four years, the Ministry of Public Health has taken major steps to strengthen healthcare, including opening a national hospital for pediatric heart surgeries and cancer treatment. He added that, with the support of development partners, the ministry aims to improve services so citizens will not need to seek treatment abroad.

Sheikh Muhammad Tahir Halim, Chief of Staff of the Ministry of Public Health, said it is a great joy that, through the efforts of the respected Minister and the blessing of the esteemed Amir ul-Mu'minin, the long-held wish of the people has been fulfilled with the inauguration of the national cancer hospital.

Dr. Muhammad Shafiq Amin, Director of the National Cancer Program, said the hospital marks the start of new advancements in cancer treatment, with more facilities to come. He added that today they are not just opening a hospital, but opening doors of hope.

European Union representatives, alongside their comprehensive remarks, assured continued support for cancer diagnosis and treatment.

## د ا.ا.ا د عامې روغتيا وزارت له لوري لومړي ځل لپاره په هېواد کې د سرطاني ناروغيو د تشخيص او درملنې يو ملي روغتون پرانيسته ترسره او په خدماتو يې پيل وکړ:

په همدې موخه جوړې شوې غونډه کې د عامې روغتيا وزير ښاغلي مولوي نورجلال جلالي، د ياد وزارت مرستيالانو او مرکزي رئيسانو، د بېلا بېلو امارتي ادارو استازو، په افغانستان کې د ايران اسلامي جمهوري دولت سفير ښاغلي علي رضا بيګدلي، د نړيوالو همکارو ادارو او رسنيو استازو ګډون کړی و.

د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي وويل: ( له نېکه مرغه موږ دا روغتون د ګډو هڅو په پايله کې پرانيزو او هيله مند يو، چې دا روغتون به د سرطاني ناروغانو لپاره د درملنې او اميد يوه سرچينه وي هغه زياته کړه، ډېر ژر به دې روغتون کې د داخلي متخصصينو روزنې په موخه روزنيز تخصصي پروګرامونه پيل شي او د اسانتياوو او غوره امکاناتوبرابرولو لپاره اړين اصلاحات تر کار لاندې نيول شوي دي ښاغلي وزير همداراز زياته کړه، چې د هند له هېواد سره په همکارۍ به دې روغتون کې د راډيوتراپي خدمات هم برابر شي او تر اوسه هند هېواد د سرطاني ناروغيو درملنې برخه کې د يو ميليون ډالرو، چې لس ټنه درمل او طبي تجهيزات په کې شامل دي، مرسته کړې ده. همدارنګه، ښاغلي وزير له خلکو، په ځانګړې توګه له پانګه‌والو او خيريه بنسټونو څخه وغوښتل، چې د سرطاني ناروغانو د درملنې او ملاتړ برخه کې همکاري وکړي.

دغه راز، د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني وويل:( عامې روغتيا وزارت په تېرو څلورو کلونو کې د روغتيايي خدمتونو د پياوړتيا په برخه کې اغېزمن ګامونه پورته کړي دي، چې له ډلې يې د ماشومانو د زړه جراحي عمليات او د سرطاني ناروغيو درملنې ملي روغتون پرانيستل يادولای شو. نوموړي زياته کړه، عامې روغتيا وزارت د کاري شريکانو په همکارۍ هڅه کوي، چې روغتيايي خدمات لا پياوړي کړي، تر څو هېوادوال درملنې لپاره د بهرنيو هېوادونو تګ ته اړ نه شي همداراز، په دې غونډه کې د عامې روغتيا وزارت د مقام د دفتر لوی رئيس، الحاج شيخ محمد طاهر حليم وويل: د خوښۍ ځای دی چې د عامې روغتيا محترم وزير په هڅو او د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله د شفقت په برکت، نن د ولس ارمان پوره شو او په ټول هېواد کې د سرطاني ناروغيو درملنې ملي روغتون پرانيستل کېږي).

سربېره پر دې د سرطان ملي پروګرام آمر، ډاکټر محمد شفيق امين وويل: ( دا روغتون د سرطاني ناروغيو د درملنې په برخه کې د نويو پرمختګونو پيل دی او په راتلونکي کې به لا ډېرې اسانتياوې هم برابرې شي.

نوموړي زياته کړه: نن موږ يوازې د يو روغتون پرانيسته نه کوو، بلکې د هيلو دروازې پرانيزو).

بل لور ته، د اروپايي ټولنې استازو د خپلو هر اړخيزو ويناوو سربېره د سرطاني ناروغيو د تشخيص او درملنې په برخه کې د دوامدارې همکارۍ ډاډ ورکړ.






## د عامې روغتیا وزارت د نړیوالو اړیکو، مرستو د همغږۍ او انسجام ریاست د دوامدارو هڅو او اغېزمنې همغږۍ په پایله کې د Doctors of Rahman (DoR) خیریه بنسټ اړوند 12 تنه ډاکټران افغانستان ته راورسېدل

یاد بنسټ چې په انګلستان هېواد کې فعالیت لري، دغه طبي ماموریت یې د عامې روغتیا وزارت سره د پخوانیو ناستو او همغږۍ پر بنسټ تنظیم کړی او د 2026 کال د فبرورۍ تر 6مې نېټې پورې به دوام ولري، چې په کې د امریکا، انګلستان، هندوستان، لبنان، قطر او یو شمېر نورو هېوادونو متخصص ډاکټران ګډون لري.

د یاد ماموریت موخه د افغانستان د روغتیایي سکتور پیاوړتیا، د تخصصي درملنې پراختیا، د طبي تجهیزاتو برابرول او د افغان روغتیایي کارکوونکو ظرفیت لوړول دي، چې په کې د اورتوپیدي، قلبي، عمومي جراحي، انستیزي، بیړني طب، سترګو او سرطان ناروغیو درملنې برخو کې متخصص ډاکټران شامل دي او په ټاکل شویو روغتیایي مرکزونو کې به هېوادوالو ته روغتیایي خدمتونه وړاندې کړي.

د عامې روغتیا وزارت د نړیوالو اړیکو، مرستو د همغږۍ او انسجام ریاست له دې ماموریت سره د ویزو پروسس او صادرولو، د طبي تجهیزاتو ګمرکي تصفیې، له معالجوي طب لوی ریاست سره په روغتونونو کې د کاري مهالوېش د همغږۍ او همدارنګه، د امنیتي او لوژستیکي اسانتیاوو په برخه کې لازمې همکارۍ ترسره کړي دي.

د یادونې وړ ده، چې د یاد ماموریت پلي کېدل د افغانستان د روغتیایي سستم پیاوړتیا، د تخصصي درملنې پراختیا، ورته د لاسرسي زیاتوالي او له نړیوالو خیریه بنسټونو سره د رغنده همکاریو په برخه کې یو مهم ګام بلل کېږي.

## Through the continuous efforts and coordination of the Ministry of Public Health's Directorate of International Relations and Aid Coordination, 12 doctors from the Doctors of Rahman (DoR) charity arrived in Afghanistan.

The UK-based organization has organized this medical mission in coordination with the Ministry of Public Health. It will continue until February 6, 2026, with specialist doctors from the US, UK, India, Lebanon, Qatar, and several other countries participating.

The mission aims to strengthen Afghanistan's health sector, expand specialized treatment, provide medical equipment, and build the capacity of Afghan healthcare workers. Specialist doctors in fields such as orthopedics, cardiology, surgery, anesthesiology, emergency medicine, ophthalmology, and cancer care will provide services at designated medical centers.

The Ministry of Public Health's Directorate of International Relations and Aid Coordination has supported the mission with visa processing, customs clearance of medical equipment, coordination of hospital schedules, and security and logistical assistance.

The mission is seen as an important step in strengthening Afghanistan's health system, expanding specialized treatment, improving access, and promoting cooperation with international charitable organizations.





## د کابل ښار په بېلابېلو ناحیو کې د درملیزو تاسیساتو څخه نظارت ترسره شو

د عامې روغتیا وزارت د درملو، روغتیایي محصولاتو او خوراکي توکو د څارنې او ارزونې مسؤلینو، د بیو کنټرول، د احتکار او انحصار مخنیوي، د کیفیت تأمین او د روغتیایي قوانینو د پلي کېدو په موخه، د کابل ښار په بېلابېلو ناحیو کې د درملیزو تأسیساتو څخه نظارت ترسره کړ.

د یاد نظارت په ترڅ کې د درملو 19 بابه تأسیسات وڅېړل شول، چې په پایله کې یې 4 بابه درملتونونه د روغتیایي قوانینو څخه د سرغړونې له امله وتړل شول.

د عامې روغتیا وزارت مسؤلین د ټولو درملتونونو له مسؤلینو څخه غواړي، چې د روغتیایي قوانینو په رعایت سره، خپل فعالیتونه د نافذه لوایحو او مقرراتو سره سم تنظیم او دوام ورکړي.

## از تأسیسات دوایی، در نواحی مختلف شهر کابل نظارت صورت گرفت

مسؤولان نظارت و بررسی ادویه، محصولات صحی و مواد غذایی وزارت صحت عامه، به‌منظور کنترول قیمت‌ها، جلوگیری از احتکار و انحصار، تأمین کیفیت و تطبیق قوانین صحی، از شماری تأسیسات دوایی در نواحی مختلف شهر کابل نظارت نمودند.

در جریان این نظارت، 19 باب تأسیسات دوایی، مورد بررسی قرار گرفت که از این میان، 4 باب دواخانه به‌دلیل نقض قوانین صحی مسدود گردیدند.

مسوولان وزارت صحت عامه از تمام مسوولان دواخانه‌ها می‌خواهند تا با رعایت قوانین صحی، فعالیت‌های خویش را مطابق لوایح و مقررات نافذه ادامه دهند.

## Inspections were conducted at pharmaceutical facilities in various districts of Kabul.

Officials from the Ministry of Public Health for the Inspection of Medicines, Health Products, and Food carried out the inspections to control prices, prevent hoarding and monopoly, ensure quality, and enforce health regulations.

During the inspections, 19 pharmaceutical facilities were inspected, of which four pharmacies were closed for violating health regulations.

The Ministry of Public Health calls on all pharmacy operators to comply with health laws and continue their activities in accordance with applicable regulations.



## د «اداري مراسلاتو، ملکي خدمتونو، د کارکوونکو اجرأتو، د ارزونې پروسې او د فورمونو تشریح او توضیح» تر عنوان لاندې یو ښوونیز پروګرام، چې پر نشه‌یي توکو د روږدو درملنې روغتون کې 10 تنو کارکوونکو لپاره جوړ شوی و، پای ته ورسېد

یاد ښوونیز پروګرام د کاري ظرفیت لوړولو، د اداري نظم ښه‌والي او د اداري مراسلاتو له سمو اصولو او د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د اجرأتو د ارزونې پروسې د فورمونو د سمې ډکولو له طریقې سره د کارکوونکو د بلدتیا په موخه ترسره شوی و.

د دې پروګرام په ترڅ کې ګډونوال په عملي بڼه د اجرأتو د ارزونې پروسې له بېلابېلو پړاوونو، د اجرأتو د سنجش له معیارونو، اداري مسؤلیتونو او د رسمي مکتوبونو د سم ترتیب او لیږد له طریقو سره اشنا شول.

## یک برنامه آموزشی که تحت نام « مراسلات اداری، توضیح و تشریح فورم‌های پروسه ارزیابی اجراآت کارکنان خدمات ملکی » برای 10 تن از کارمندان شفاخانه تداوی معتادین موادمخدر برگزار شده بود پایان یافت

این برنامه آموزشی به منظور ارتقاء ظرفیت کاری، بهبود نظم اداری و آشنایی کارمندان با اصول صحیح مراسلات اداری و نحوه خانه‌پُری فورم‌های پروسه ارزیابی اجراآت کارکنان خدمات ملکی برگزار شده بود.

در جریان این برنامه، اشتراک‌کننده گان با مراحل مختلف پروسه ارزیابی، معیارهای سنجش اجراآت، مسئولیت‌های اداری و شیوه درست ترتیب و ارسال مکاتیب رسمی به‌گونه عملی آشنا ساخته شدند

## A training program titled "Administrative Correspondence and Explanation of Forms for the Performance Evaluation Process of Civil Service Employees'" held for 10 employees of the Drug Addiction Treatment Hospital, has concluded.

This training program was held to enhance work capacity, improve administrative discipline, and familiarize employees with proper administrative correspondence and the correct completion of civil service performance evaluation forms.

During this program, participants were practically familiarized with the different stages of the evaluation process, performance assessment criteria, administrative responsibilities, and the proper way of preparing and sending official correspondence.






## Dr. Enayatullah Enayat, Director General of Monitoring and Inspection of the Ministry of Public Health, represented the ministry at an international scientific conference organized by Jordan University of Science and Technology (JUST).

The conference focused on recent scientific advances in diagnosing, preventing, and controlling Crimean-Congo Hemorrhagic Fever (CCHF), addressing global health challenges, sharing experiences, and promoting the implementation of a joint health system.

The international conference was attended by specialists, doctors, and researchers from Jordan, Egypt, Turkey, Pakistan, Tunisia, Algeria, Saudi Arabia, Oman, the UK, the US, and other countries.

At the conference, Dr. Enayat presented a comprehensive report on Afghanistan's experience with CCHF, covering four years of data, treatment outcomes, patient care, laboratory achievements, and public awareness efforts.

At the conference, Afghanistan's Ministry of Public Health was praised for its surveillance system and patient care, while participants stressed the need for a joint international strategy to research the deadly disease and encourage donor support for high-risk countries.

## د عامې روغتيا وزارت د څارنې او پلټنې لوی رئيس، ډاکټر عنايت‌الله عنايت، د اردن هېواد د ساينس او ټکنالوژۍ پوهنتون (JUST) له لوري په جوړ شوي نړيوال علمي کنفرانس کې د دې وزارت په استازيتوب ګډون وکړ

ياد کنفرانس د کريميا-کانګو وينې بهېدونکې تبې(CCHF)ناروغۍ د تشخيص، مخنيوي او کنټرول په برخه کې د وروستيو علمي پرمختګونو، زياتېدونکو نړيوالو روغتيايي ننګونو، د تجروبو شريکولو او د ګډ روغتيايي سيستم د پلي کېدو په موخه جوړ شوی و.

په دغه نړيوال کنفرانس کې د اردن، مصر، ترکيې، پاکستان، تونس، الجزاير، سعودي عربستان، عمان، انګلستان، امريکا او يو شمېر نورو هېوادونو متخصصينو، ډاکټرانو او څېړونکو ګډون درلود.

ډاکټر عنايت په ياد کنفرانس کې د افغانستان له لوري يو جامع علمي پريزنټېشن وړاندې کړ، چې پکې د کانګو ناروغۍ د تېرو څلورو کلونو تحليلي ارقام، د درملنې پايلې، د ناروغانو د تداوي وضعيت، د درملنې وروستي ارقام، اختلاطات، د هېواد په کچه د تشخيصيه لابراتوارونو لاسته راوړنې او د عامه پوهاوي اړوند مسايل په تفصيل سره تشريح کړ.

د کنفرانس پر مهال د افغانستان د عامې روغتيا وزارت د سرويلانس سيستم او ناروغانو ته د رسېدنې چارې وستايل شوې او ګډونوالو د هېوادونو په کچه د يو ګډ علمي او تخنيکي ستراتيژۍ پر اړتيا ټينګار وکړ، چې د دې مهلکې ناروغۍ په اړه هراړخيزې څېړنې ترسره او د تحقيقي راپورونو او پروپوزلونو له لارې نړيوال ډونران وهڅول شي، څو له هغو هېوادونو سره مرسته وکړي چې د ناروغۍ لوړ ارقام او زيات خطر لري.





## د هېواد د درملتونونو د بیا ثبت پروژې لپاره 60 تنو سروې کوونکو او ټیم مشرانو ته یو ورځنی روزنیز پروګرام ترسره شو

دغه روزنیز پروګرام د (لوګر، کندهار، زابل، ارزګان، هلمند، ننګرهار، لغمان، کونړ او نیمروز) ولایتونو سروې کوونکو او ټیم مشرانو لپاره په خوړو او درملو معینیت کې ترسره شو.

په دې پروګرام کې د هېواد د درملتونونو د سروې او بیا ثبت پروژې پېژندنه او د دې پروژې تخنیکي سیستم د خوړو او درملو معینیت د متخصصینو له لوري ګډونوالو ته وړاندې شو؛ ترڅو دوی وکولای شي د پروژې د تطبیق پرمهال یې په سمه توګه پلي کړي.

د یادونې وړ ده، چې د یادې پروژې د تطبیق پایله کې به د هېواد ټول درملتونونه سروې شي او جواز لرونکي درملتونونه به په الکترونیکي ډول بیا ثبت شي.

## یک برنامه آموزشی یک روزه برای 60 تن از سرویرها و سر تیم های پروژه ثبت مجدد دواخانه های کشور برگزار شد

این برنامه آموزشی برای سرویر ها و سرتیم های ولایت های ( لوگر، قندهار، زابل، ارزگان، هلمند، ننگرهار، لغمان، کنر و نیمروز) در تالار عمومی معینیت غذا و ادویه برگزار گردید.

در این برنامه، معرفی پروژه سروی و ثبت مجدد دواخانه هـای کشور و سیستم تخنیکی این پروژه برای اشتراک کننده گان برنامه توسط متخصصین معینیت غذا و ادویه تشریح گردید تا بتوانند در جریان تطبیق پروژه به گونه درست آنرا عملی نمایند.

قابل یاد آوری است که، در نتیجه تطبیق پروژه متذکره تمام دواخانه های کشور سروی شده و دواخانه های دارای جواز به شکل الکترونیکی ثبت مجدد می گردند.

## A one-day training program was conducted for 60 surveyors and team leaders as part of the national pharmacy re-registration project.

This training program for surveyors and team leaders from Logar, Kandahar, Zabul, Uruzgan, Helmand, Nangarhar, Laghman, Kunar, and Nimroz provinces was held at the auditorium of Deputy Minister's Office for Food and Drugs.

During the program, specialists from the Deputy Minister's Office for Food and Drugs briefed participants on the pharmacy survey and re-registration project and its technical system to ensure proper implementation.

As a result of this project, all pharmacies in the country have been surveyed, and licensed pharmacies are being electronically re-registered.














## د عامې روغتيا وزارت د غير ساري ناروغيو د مخنيوي او کنټرول رياست له لوري د کابل ولايت په سروبي، چهار اسياب او قره باغ ولسواليو او هودخېلو سيمه کې د ټولنې روغتيايي کارکوونکو د ظرفيت لوړولو په موخه يو درې ورځنۍ ورکشاپ ترسره شو

په دې ورکشاپ کې 55 تنو روغتيايي کارکوونکو ته د غير ساري ناروغيو د مخنيوي، لومړني تشخيص، د ناروغانو راجع کولو او د غير ساري
ناروغيو د مديريت په برخو کې روزنه ورکړل شوه.
د عامې روغتيا وزارت د غيرساري ناروغيو د مخنيوي او کنټرول مسؤل، ډاکټر محمد سميع کريمي ټينګار وکړ، چې د ټولنې روغتيايي کارکوونکي د ناروغيو مخنيوي او کنټرول برخه کې حياتي رول لري او له ګډونوالو يې
وغوښتل، چې زده کړې ميتودونه له خپلو همکارانو سره شريکې. کړي

دغه ورکشاپ په اغېزمنه تعليمي محتوا او ښه چاپېريال کې ترسره اوګډونوالو ور څخه بشپړ رضايت څرګند کړ.

## یک ورکشاپ سه‌روزه‌ای به هدف ارتقاء ظرفیت کارکنان صحی جامعه (CHW) از سوی دیپارتمنت وقایه و کنترول امراض غیرساری وزارت صحت عامه در ولسوالی‌های سروبی، چهار آسیاب، قره‌باغ و هود خیل ولایت کابل برگزار شد

در این ورکشاپ، 55 تن از کارکنان صحی در زمینه‌های وقایه، تشخیص
مقدم، رجعت بیماران و مدیریت امراض غیرساری آموزش دیدند.

داکتر محمد سمیع کریمی، مسوول وقایه و کنترول امراض غیر ساری وزارت صحت عامه، تأکید کرد که، کارمندان صحی جامعه نقش حیاتی در جلوگیری و کنترول بیماری‌ها دارند و از اشتراک کننده‌گان خواست تا
آموخته‌های خود را با همکارانشان به اشتراک بگذارند.

این ورکشاپ با محتوای آموزشی مؤثر در فضایی فعال برگزار شد و اشتراک‌کننده گان از آن رضایت کامل داشتند.

**The Ministry of Public Health's Department of Prevention and Control of Non-Communicable Diseases held a three-day workshop to enhance the capacity of community health workers (CHWs) in Surobi, Char Asiab, Qarabagh, and Hood Khil districts of Kabul province.**

The workshop trained 55 health workers in prevention, primary diagnosis, patient referral, and non-communicable disease management.

Dr. Mohammad Sami Karimi, Head of the Ministry of Public Health's Department of Prevention and Control of Non-Communicable Diseases, stressed that community health workers play a vital role in disease prevention and urged participants to share their knowledge with colleagues.

The workshop, held in an interactive setting with effective educational content, received full satisfaction from the participants.





## عامې روغتيا وزارت له لوري د ملاريا ناروغۍ ملي پروګرام د بيا کتنې يو ورځنۍ ورکشاپ غونډه تر سره شوه

په دې غونډه کې د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، د وزارت يو شمېر مرکزي رئيسانو، د روغتيا نړيوال سازمان (WHO)، UNDP، او تطبيق کوونکو مؤسسو مسؤلينو او استازو ګډون کړی و.

د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني وويل:(2025 م کال زموږ د ګران هېواد لپاره له بېلا بېلو سختو ننګونو ډک کال و، خو سره له دې ټولو محدوديتونو، موږ وتوانېدو چې د ملاريا د پېښو په شمېر کې د 2024 م کال په پرتله نږدې 15 سلنه کموالی راوړو، چې دا يو مهم او هيله ښوونکې پرمختګ دی).

ښاغلي مرستيال زياته کړه، دا ورکشاپ د ملاريا ناروغۍ د کنټرول ملي پروګرام د فعاليتونو ارزونې او د راتلونکو کلونو لپاره د اغېزمنو تګلارو د طرحې مهم فرصت دی او د عامې روغتيا وزارت ژمن دی، چې په دې برخه کې خپلې هڅې لا پياوړې او له خپلو کاري شريکانو سره نږدې همکاري ولري.

دغه راز، د ملاريا او نورو ناقله ناروغيو د کنټرول آمر، ډاکټر حزب الله فطرت د ياد پروګرام د لاسته راوړنو په اړه وويل:( د روغتيا نړيوال سازمان وروستيو سپارښتنو پر اساس 2025 م کال کې د ملاريا، لشمانيا او ډينګي ناروغيو درملنې ملي لارښودونه نوي شوي، 20 آوټ بريکونه کنټرول شوي، له روغتيايي مرکزونو څخه نظارتونه تر سره شوي او د ملاريا د کنټرول په موخه نورستان کې 121000، پکتيکا کې 175051، کابل کې 53300، غزني کې 27250 او همداراز، په شرقي زون کې اميندواره مېندو ته 220297 او په کونړ او ننګرهار کې زلزله ځپلو ته 25666 ماشلومي (پشه خانې) ويشل شوي دي).

په دې غونډه کې همداراز، د روغتيا نړيوال سازمان،UNDPاو اړوندو نورو ادارو مسؤلينو د خپلو فعاليتونو راپورونه وړاندې او د ملاريا او نورو ناقله ناروغيو کنټرول برخه کې يې د همکارۍ ژمنې وکړې.

## A one-day workshop reviewing the National Malaria Program was held by the Ministry of Public Health.

The workshop was attended by the Ministry's Deputy for Health Services, Mawlawi Abdul Wali Haqqani, several central directors of the Ministry, representatives from the World Health Organization (WHO), UNDP, and implementing agencies.

Deputy Minister Haqqani said, "The year 2025 was full of various challenges for our country, but despite all limitations, we managed to reduce malaria cases by nearly 15% compared to 2024, which is a significant and encouraging achievement." He added that the workshop provides an important opportunity to evaluate the activities of the National Malaria Control Program and to plan effective strategies for the coming years. He emphasized the Ministry's commitment to strengthening efforts and closely collaborating with partners in this area.

Dr. Hezbullah Fitrat, Head of Malaria and Other Communicable Diseases Control, highlighted program achievements: "Based on recent WHO recommendations, national treatment guidelines for malaria, leishmaniasis, and dengue were updated in 2025. Twenty outbreaks were controlled, health center monitoring was conducted, and mosquito nets were distributed for malaria control as follows: 121,000 in Nuristan, 175,051 in Paktika, 53,300 in Kabul, 27,250 in Ghazni, 220,297 to pregnant women in the eastern zone, and 25,666 to earthquake-affected households in Kunar and Nangarhar."

The workshop also included presentations by WHO, UNDP, and other agencies, who shared activity reports and reaffirmed their commitment to collaborate on malaria and other communicable disease control.





## د ا.ا.ا د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د ملي پراختیا شرکت له رئیس ښاغلي عبدالرحمن عطاش سره د غزني ولایت سیمه ییز روغتون د نیمه پاتې رغنیزو چارو ژر ترسراوي په موخه لیدنه وکړه

په دې لیدنه کې چې د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال ښاغلي قاري عبدالولي صدیقي، د غزني د عامې روغتیا رئیس او یو شمېر نورو مسؤلینو هم شتون درلود، د غزني ولایت سیمه روغتون د نیمه پاتې چارو د ژر تر سراوي اړوند بحث او خبرې تر سره شوې.

د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي وویل، د یاد روغتون پاتې چارو ژر بشپړېدل به د غزني ولایت اوسېدونکو ته د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو بهیر لا پیاوړی او اسانتیاوې به پراخې کړي.

همداراز، په دې ناسته کې د ځینو نورو هغو نیمه پاتې روغتیایي پروژو او تعمیراتو په اړه، چې د ملي پراختیا شرکت له لوري یې کارونه تر سره کېږي، د چارو د چټکتیا، ښه والي او شفافیت اړوند هم خبرې تر سره شوې.

دغه راز، د ملي پراختیا شرکت رئیس ډاډ ورکړ، چې د یادو پروژو د چارو منظم ترسراوي او پر وخت بشپړېدو لپاره به لا هڅې تر سره کوي.

## محترم مولوی نور جلال جلالی وزیر صحت عامه ا.ا.ا، با محترم عبدالرحمن عطاش رئیس شرکت انکشاف ملی، در مورد تکمیل پروژه‌های نیمه‌تمام شفاخانه حوزوی ولایت غزنی در دفتر کاری‌اش دیدار کرد

در این دیدار که، محترم قاری عبدالولی صدیقی معین مالی و اداری وزارت صحت عامه، رئیس صحت عامه ولایت غزنی و تعدادی از مسوولان دیگر نیز حضور داشتند، در مورد تکمیل پروژه های نیمه‌تمام شفاخانه غزنی و سرعت بخشیدن به آن بحث و تبادل نظر نمودند.

محترم مولوی نور جلال جلالی، وزیر صحت عامه، گفت، که تکمیل باقی‌مانده کارهای شفاخانه غزنی باعث تقویت خدمات صحی در این ولایت شده و تسهیلات بیشتری برای مردم غزنی فراهم خواهد کرد.

همچنان، در این نشست در مورد سایر پروژه‌های نیمه‌تمام صحی و ساختمانی که توسط شرکت انکشاف ملی در حال اجراست، بحث هایی راجع به تسریع در کارها، بهبود کیفیت و شفافیت این پروژه‌ها صورت گرفت.

از سوی‌هم، رئیس شرکت انکشاف ملی نیز اطمینان داد که برای تکمیل به موقع این پروژه‌ها و اجرای منظم آنها تلاش‌های بیشتری صورت خواهد گرفت.

## Mawlawi Noor Jalal Jalali, Minister of Public Health of the IEA, met in his official office with Abdul Rahman Attaash, Director of the National Development Company, to discuss the prompt completion of the remaining construction works of the Ghazni Provincial Regional Hospital.

The meeting, attended by Qari Abdul Wali Sediqi, Deputy Minister for Finance and Administration of the Ministry of Public Health, the Director of Public Health of Ghazni Province, and several other officials, focused on discussions regarding the completion of the remaining works of the Ghazni Provincial Regional Hospital.

The Minister of Public Health said that completing the remaining works of the hospital will strengthen healthcare service provision for the residents of Ghazni.

The meeting also discussed accelerating and improving the implementation of other ongoing healthcare projects being carried out by the National Development Company.

The Director of the National Development Company assured that efforts will continue to complete these projects on time and properly.





## د ننګرهار سیمه ییز روغتون او د ولسوالیو یو شمیر روغتیایي مرکزونو ته د 50 زره امریکایي ډالرو په ارزښت اړین طبي وسایل ورکړل شول

یاد طبي وسایل د یونیسیف اداري له لوري د 50 زره امریکایي ډالرو په لګښت پېرل شوي وو، چې روغتونونو او روغتیایي مرکزونو ته د اړتیا په اساس ورکړل شول.

د یادو وسایلو سپارلو پر مهال د ننګرهار د عامې روغتیا رئیس، الحاج مولوي امین الله شریف شتون درلود. هغه د روغتیایي وسایلو د اهمیت په اړه خبرې وکړې او ډاډ یې ورکړ، چې دغه وسایل به په مؤثره توګه د ناروغانو د درملنې لپاره وکارول شي.

نوموړي همدارنګه، له روغتیایي مسؤلینو وغوښتل، چې د وسایلو ساتنه او سم استعمال وکړي.

## به ارزش 50 هزار دالر امریکایی، به شفاخانه حوزوی ننگرهار و شماری از مراکز صحی ولسوالی‌های آن، یک تعداد تجهیزات طبی مورد نیاز توزیع گردید

این تجهیزات طبی که از سوی اداره یونیسف به هزینه 50 هزار دالر امریکایی تهیه شده بود بر اساس نیاز، در اختیار شفاخانه‌ها و مراکز صحی قرار داده شد.

در جریان توزیع این تجهیزات، که الحاج مولوی امین‌الله شریف رئیس صحت‌عامه ولایت ننگرهار، حضور داشت. در مورد اهمیت تجهیزات صحی صحبت نموده و اطمینان داد که این وسایل به گونه مؤثر در تداوی بیماران مورد استفاده قرار خواهد گرفت.

رئیس همچنان از مسئولان صحی خواست تا در نگهداری و استفاده درست از این تجهیزات توجه لازم داشته باشند.

**Essential medical equipment worth USD 50,000 was provided to Nangarhar Regional Hospital and several health centers in its districts.**

The equipment was procured by UNICEF at a cost of USD 50,000 and distributed to hospitals and health facilities based on their needs.

During the handover ceremony, the Director of Public Health of Nangarhar, Al-Haj Mawlawi Aminullah Sharif, highlighted the importance of the equipment and assured that it would be used effectively for patient care.

He also urged health officials to ensure proper use and maintenance of the supplies.




## د دولتي روغتونونو لپاره د ملي اعتبار ورکولو معيارونو انکشاف په موخه ناسته ترسره شوه

دغه ناسته چې د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي پراختيا او پاليسۍ مرستيال ښاغلي ډاکټر محمد حسن غياثي په مشرۍ، د اړوندو ادارو تخنيکي استازو او روغتيا نړيوال سازمان تخنيکي مسؤلينو په شتون کې ترسره شوه؛ موخه يې د دولتي روغتونونو لپاره د ملي اعتبار ورکولو معيارونو انکشاف، د عامې روغتيا سکتور پياوړتيا او د هېوادوالو لپاره د باکيفيته او معياري روغتيايي خدماتو وړاندې کول و.

د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي پراختيا او پاليسۍ مرستيال د معيارونو پر بنسټيز رول ټينګار وکړ او ويې ويل: «په دولتي روغتونونو کې د ملي معيارونو پلي کول د روغتيايي خدماتو د کيفيت لوړولو، د ناروغانو د خونديتوب کچې زياتولو او د خلکو د باور ټينګښت په لور مهم ګام دی».

ښاغلي مرستيال زياته کړه، عامې روغتيا وزارت ژمن دی، چې د اړونده بنسټونو او نړيوالو شريکانو سره په همکارۍ دغه معيارونو په اغېزمن ډول پلي او هم ترې دوامدار نظارت ترسره کړي.

په ياده ناسته کې د ملي اعتبار ورکولو ادارې د معيارونو او سروې رياست اجرائيوي متخصص، عبدالهادي صافي د روغتونونو ملي معيارونو په اړه يو پرزينټېشن وړاندې کړ او همدارنګه، د ناستې غړو هم خپل تخنيکي نظريات شريک کړل.

په پای کې پرېکړه وشوه، چې د معيارونو پلي کول به لومړی د کابل له مرکزي روغتونونو څخه پيل شي او وروسته به دا لړۍ ولاياتو ته هم وغځېږي.

## Meeting Held to Develop National Accreditation Standards for Public Hospitals

Under the leadership of Dr. Mohammad Hasan Ghiasy, Deputy Minister for Health Promotion and Policy of the Ministry of Public Health, a meeting was held with technical officials from relevant departments and WHO to develop national accreditation standards for public hospitals and to strengthen the provision of quality healthcare services.

Dr. Mohammad Hasan Ghiasy emphasized that implementing national standards in public hospitals will improve service quality, enhance patient safety, and strengthen public trust. He added that the Ministry of Public Health, with relevant institutions and international partners, is committed to effective implementation and continuous monitoring.

Abdul Hadi Safi, Senior Standards and Survey Specialist of the Executive Directorate of the National Accreditation Authority, presented the national hospital standards, and participants provided technical feedback. It was decided that implementation will start in Kabul hospitals and later expand to other provinces.










**A public awareness session on cancer, held under the slogan "Let Us Unite for a Common Goal," was organized by the Ministry of Public Health of the Islamic Emirate of Afghanistan.**

The session was attended by Mawlawi Abdul Wali Haqqani, Deputy Minister for Health Service; Dr. Mohammad Hassan Ghiasy, Deputy Minister for Policy and Health Promotion; central directors of the Ministry of Public Health; representatives of international partner organizations; and members of the media.

Mawlawi Abdul Wali Haqqani emphasized that efforts to expand specialized cancer services, diagnosis, and treatment, as well as the provision of standard healthcare services, are ongoing. Referring to World Cancer Day, he highlighted the critical role of public awareness in preventing cancer and stressed that combating the disease is a shared responsibility of both the government and the public.

Dr. Mohammad Hassan Ghiasy stated that cancer is one of the major challenges facing public health in the 21st century, with millions of new cases diagnosed globally each year. He added that cancer is not only a medical issue but also a significant economic burden, noting that sustained efforts by the Ministry have led to considerable progress in this area.

Dr. Mohammad Dawood Mirakai, Public Awareness Officer of the National Cancer Control Program, noted that unhealthy diets, drug use, and the consequences of prolonged conflict are among the main factors contributing to cancer. He stated that millions of people worldwide are affected by the disease each year, resulting in a high number of deaths.

During the session, Sheikh Mohammad Taher Haleem, Chief of Staff of MoPH; Dr. Nisar Ahmad Niazi, Director General of Speciality Program; and Dr. Wahdat Alokozai, Director General of Curative Medicine, described cancer as a curable disease and delivered comprehensive remarks on the country's capacity for cancer diagnosis and treatment.

Additionally, Dr. Mohammad Shafiq Amin, Head of the National Cancer Program, emphasized that cancer poses a serious threat to human life and that its prevention requires strong and collective efforts from all members of society.

Meanwhile, Dr Manuel De Lara, Representative of the World Health Organization, stated that cancer is not only a health issue but also a major barrier to development. He noted that WHO, in collaboration with the Ministry of Public Health, is working to procure radiotherapy machines to ensure effective and standardized health services and to improve timely access to cancer diagnosis and treatment.

**د ۱.۱.۱ د عامې روغتیا وزارت له لوري د سرطان ناروغۍ په اړه د عامه پوهاوي غونډه «راځئ! د یو ټاکلي هدف لپاره سره راټول شو» تر شعار لاندې ترسره شوه**

په دې غونډه کې چې د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، د روغتیايي پراختیا او پالیسۍ مرستیال ښاغلي ډاکتر محمد حسن غیاثي، د وزارت مرکزي رئیسانو، د نړیوالو همکارو ادارو او رسنیو استازو ګډون کړی و ، د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني وویل، د سرطان د تخصصي خدماتو پراختیا، تشخیص، درملنې او
معیاري روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو هڅې دوام لري.
ښاغلي مرستیال زیاته کړه، د سرطان مخنیوي برخه کې عامه پوهاوی بنسټیز رول لري او د سرطان پر وړاندې مبارزه د حکومت او ولس ګډ
مسؤلیت دی.
همدارنګه، د روغتیایي پراختیا او پالیسۍ مرستیال ښاغلي ډاکتر محمد حسن غیاثي وویل، سرطان په یویشتمه پېړۍ کې د عامې روغتیا له جدي ننګونو څخه دی او هر کال په نړۍ کې د دې ناروغۍ میلیونونه نوې پېښې تشخیصېږي.
نوموړي زیاته کړه، سرطان یواځې یوه طبي ستونزه نه ده، بلکې ستر اقتصادي زیان هم اړوي؛ خو د عامې روغتیا وزارت د دوامدارو هڅو له
امله په دې برخه کې د پام وړ پرمختګونه شوي دي.
ورته مهال، د سرطان د کنترول ملي پروګرام د عامه پوهاوي مسؤل ډاکتر محمد داوود میرکي وویل، د ناسمو خوړو استعمال، د نشه یي توکو کارونه او د جګړو ناوړه پایلې د سرطان د رامنځته کېدو له مهمو عواملو څخه دي او هر کال په نړۍ کې میلیونونه کسان پر دې ناروغۍ اخته کېږي او خپل
ژوند له لاسه ورکوي.
د غونډې په دوام د عامې روغتیا وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس شیخ محمد طاهر حلیم، د اکمال تخصص لوی رئیس ډاکتر نثار احمد نیازي او د معالجوي طب لوی رئیس ډاکتر وحدت الکوزي، سرطان د درملنې وړ ناروغي وبلله او د دې ناروغۍ د تشخیص او درملنې په اړه یې هر اړخیزې
ویناوې ترسره کړې.
سربېره پر دې، د سرطان د کنټرول ملي پروګرام امر ډاکتر محمد شفیق امین هم ټینګار وکړ، چې سرطان د انساني ژوند پر وړاندې لوی ګواښ دی او د مخنیوي لپاره یې د ټولنې د ټولو وګړو ګډو او جدي هڅو ته اړتیا ده.
بل لور، د روغتیا نړیوال سازمان استازي ډاکتر منول دلارا وویل، سرطان یواځې یوه روغتیایي ستونزه نه ده، بلکې د پرمختګ پر وړاندې یو لوی خنډ هم دی.
نوموړي زیاته کړه، روغتیا نړیوال سازمان له عامې روغتیا وزارت سره په همکارۍ د راډیوتراپۍ ماشینونو د برابرولو لپاره کار کوي؛ څو اغېزمن او معیاري روغتیایي خدمات وړاندې شي او خلکو ته د پر وخت تشخیص او درملنې اسانتیاوې برابرې شي.






**د درملو او روغتیايي محصولاتو د تنظیم لوی رئیس، الحافظ ډاکټر نعیم‌الله ایوبي د درملو او طبي تجهیزاتو د وارداتي اتحادیې له مسؤلینو او غړو سره د درملو د بازار وضعیت او د سوداګرو د ستونزو ارزونې په موخه ناسته ترسره کړه**

**الحافظ داکتر نعیم‌الله ایوبی، رئیس عمومی تنظیم ادویه و محصولات صحی، نشستی را با مسوولان و اعضای اتحادیه تورید ادویه و تجهیزات طبی، به منظور بررسی وضعیت بازار دوایی و مشکلات تجاران برگزار کرد**

په دې ناسته کې افغان سوداګرو ته له بنګله دېش هېواد څخه د درملو د وارداتو برخه کې د اسانتیاوو برابرولو، په بازار کې د ځینو درملو د کمښت ارزونې، د احتکار او د قیمتونو د لوړوالي مخنیوي، د کاري بهیرونو چټکتیا، د درملو د مخکښني بیل (پرې فاکتور) د صادرولو اسانتیا او د روغتیايي محصولاتو د ثبت پروسې د پیل په اړه بحث او خبرې ترسره شوې.

د یادونې وړ ده، چې د عامې روغتیا وزارت رهبرۍ په خپلو وروستیو سفرونو کې له ګاونډیو او د سیمې هېوادونو سره اغېزمنې هوکړې کړې دي، چې دا به له پاکستان څخه د بندو شویو وارداتي درملو لپاره یو مناسب بدیل وګرځي.

در این نشست، در مورد موضوعات ذیل از جمله فراهم‌سازی تسهیلات برای تجاران افغان در واردات ادویه از کشور بنگلادیش، بررسی کمبود برخی اقلام دوایی در بازار، جلوگیری از احتکار و افزایش غیرقانونی قیمت‌ها، تسریع روندهای کاری، سهولت در صدور پیش‌فاکتورهای دوایی و آغاز پروسه ثبت محصولات صحی بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

قابل یادآوری است که رهبری وزارت صحت عامه در سفرهای اخیر خود به کشورهای همسایه و منطقه، به توافقات مؤثری دست یافته‌اند که می‌تواند بدیل مناسبی برای ادویه‌های وارداتی متوقف‌شده از پاکستان باشد.

**Al-Hafiz Dr. Naeemullah Ayoubi, Director General of Drugs and Health Products Regulation, met with the Medicines and Medical Equipment Imports' Association to review the market and traders' challenges.**

The meeting focused on facilitating Afghan traders' medicine imports from Bangladesh, addressing shortages of certain medicines, preventing hoarding and price hikes, speeding up work processes, easing pre-invoice issuance, and launching the registration of health products.

Recently, the Ministry of Public Health's leadership reached agreements with neighboring countries to provide alternatives for medicines restricted from Pakistan.




## د عامې روغتيا وزارت د ساختماني چارو او تاسيساتو رياست اړوند (14) تخنيکي بستونو لپاره د ازموينې اخيستلو بهير پيل شو

ياد بستونه چې د عامې روغتيا وزارت له لوري اعلان شوي وو،(582) تنو ورته نوملیکنه کړې وه، چې د اسنادو او د دندو لايحې ارزونې له مخې ورته (199) تنه په شرايطو برابر بلل شوي او شارټ ليس شوي وو.

دا ازموينه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري تر څارنې لاندې د عامې روغتيا وزارت سره په همغږۍ د دې وزارت د کارکوونکو چارو لوی رئيس، عرفان الله کريمي په شتون کې پيل شوه، چې په الکترونيکي توګه به دوه پړاوونو کې د سه‌شنبې او چهارشنبې په ورځو چې د 1447/8/15 او 1447/8/16 نېټو سره سمون لري، واخيستل شي او پايله کې به يې وړ او مسلکي کسان يادو بستونو ته معرفي شي.

## روند اخذ امتحان برای (14) بست تخنیکی ریاست امور ساختمانی و تأسیسات وزارت صحت‌عامه آغاز شد

این بست‌ها که از سوی وزارت صحت عامه اعلان شده بود، 582 تن برای آن ثبت‌نام کرده بودند که پس از ارزیابی اسناد و لایحه وظایف، 199 تن واجد شرایط تشخیص داده شده و در فهرست نهایی (شارت‌لیست) قرار گرفتند.

این امتحان تحت نظارت اداره اصلاحات اداری و خدمات ملکی و با هماهنگی وزارت صحت‌عامه، با حضور عرفان‌الله کریمی رئیس عمومی امور کارکنان این وزارت، آغاز گردید. امتحان به‌گونه الکترونیکی در دو مرحله، در روزهای سه‌شنبه و چهارشنبه مطابق با تاریخ‌های 15 و 16 / 8 / 1447 هـ ق برگزار می‌شود که در نتیجه آن، افراد شایسته و مسلکی برای احراز بست‌های متذکره معرفی خواهند شد.

## The Ministry of Public Health has launched the examination process for fourteen (14) technical positions for the Directorate of Construction Affairs and Facilities of MoPH.

A total of 582 applicants applied for the positions announced by the Ministry of Public Health. After reviewing documents and job descriptions, 199 candidates were deemed eligible and shortlisted.

The examination was launched under the supervision of the Administrative Reforms and Civil Services Authority, in coordination with the Ministry of Public Health and in the presence of Irfanullah Karimi, Director General of Human Resources. It will be conducted electronically in two phases on Tuesday and Wednesday (15/8/1447 and 16/8/1447), and qualified candidates will be selected for the positions.



## د بلخ ولایت عامې روغتیا ریاست د څارنې او پلټنې آمریت ټیمونو په تېره یوه اوونۍ کې له 154 درملیزو او خوړو اړوند تأسیساتو څخه نظارت تر سره کړی دی

دا نظارت له 69 درملتونونو، 16 عمده پلورنځیو، 33 کتنځایونو، 13 لابراتوارونو، 2 روغتونونو، 2 کلینیکونو، د روغتیایي علومو 10 مرکزونو او د خوړو اړوند 9 تأسیساتو څخه ترسره شو، چې پایله کې، 16 درملتونونه
او 2 لابراتوارونه د غیرقانوني فعالیتونو له امله وتړل شول.

## تیم‌های نظارت آمریت نظارت و بازرسی ریاست صحت‌عامه ولایت بلخ، در جریان یک هفته گذشته از 154 تأسیسات دوایی و غذایی نظارت نمودند

این نظارت‌ها از 69 دواخانه، 16 فروشگاه های عمده، 33 معاینه خانه، 13 لابراتوار، 2 شفاخانه، 2 کلینیک، 10 مرکز آموزشی علوم صحی و همچنان 9 تأسیسات غذایی صورت گرفت. که در نتیجه، 16 دواخانه و 2 لابراتوار به دلیل فعالیت‌های غیرقانونی مسدود گردیدند

**Over the past week, the monitoring teams of the Public Health Directorate of Balkh Province inspected 154 pharmaceutical and food facilities.**

The inspections covered 69 pharmacies, 16 wholesale stores, 33 clinics, 13 laboratories, 2 hospitals, 2 clinics, 10 health training centers, and 9 food facilities. As a result, 16 pharmacies and 2 laboratories were closed for illegal activities











## د کابل ښار په دویمې، نهمې، یوولسمې او شپاړسمې ناحیو کې د درملو او خوراکي توکو تاسیساتو څخه نظارت ترسره شو

د عامې روغتیا وزارت د درملو، روغتیایي محصولاتو او خوراکي توکو د څارنې او ارزونې مسؤلینو د بیو کنټرول، احتکار او انحصار مخنیوي، د کیفیت تأمین او د روغتیایي قوانینو پلي کېدو په موخه د کابل ښار په دویمې، نهمې، یوولسمې او شپاړسمې ناحیو کې د درملو او خوراکي توکو تاسیساتو څخه نظارت ترسره کړ.

د یاد نظارت په ترڅ کې د درملو او خوراکي توکو 39 تاسیساتو وڅارل شول، چې له ډلې يې 13 درملتونونه او 2 د درملو ګدامونه له روغتیايي قوانینو څخه د سرغړونې له امله وتړل شول.

د عامې روغتیا وزارت مسؤلین د ټولو درملتونونو له مسؤلینو څخه غواړي، چې د روغتیايي قوانینو په رعایت سره خپل فعالیتونه د نافذه لوایحو او مقرراتو سره سم تنظیم او دوام ورکړي.

## از تأسیسات دوایی و غذایی، در ناحیه‌های دوهم، نهم، یازدهم و شانزده هم شهر کابل نظارت صورت گرفت

مسؤولان نظارت و بررسی ادویه، محصولات صحی و مواد غذایی وزارت صحت عامه، به‌منظور کنترول قیمت‌ها، جلوگیری از احتکار و انحصار، تأمین کیفیت و تطبیق قوانین صحی، از شماری تأسیسات دوایی، غذایی در ناحیه‌های دوهم، نهم، یازدهم و شانزده هم شهر کابل نظارت نمودند.

در جریان این نظارت، 39 باب تأسیسات دوایی و غذایی، مورد بررسی قرار گرفت که از این میان، 13 باب دواخانه و 2 باب گدام ادویه به‌دلیل نگهداری غیرقانونی و نقض قوانین صحی مسدود گردیدند.

مسوولان وزارت صحت عامه از تمام مسوولان دواخانه‌ها می‌خواهند تا با رعایت قوانین صحی، فعالیت‌های خویش را مطابق لوایح و مقررات نافذه ادامه دهند.

**Inspections of pharmaceutical and food facilities were conducted in Kabul's 2nd, 9th, 11th, and 16th districts.**

Officials from the Ministry of Public Health for the Inspection of Medicines, Health Products, and Food carried out the inspections to control prices, prevent hoarding and monopoly, ensure quality, and enforce health regulations.

During the inspections, 39 pharmaceutical and food facilities were examined, of which 13 pharmacies and 2 medicine warehouses were closed due to illegal storage and violations of health regulations.

The Ministry of Public Health calls on all pharmacy operators to comply with health laws and continue their activities in accordance with applicable regulations.





## Consultative Meeting on Final Draft of National Health Strategy

The meeting was attended by Dr. Mohammad Hassan Ghiasy, Deputy Minister for Health Promotion and Policy; Qari Abdul Wali Sediqi, Deputy Minister for Finance and Administration; Al-Haj Sheikh Mohammad Taher Halim, the Chief of Staff; Dr. Syed Rasool Mangal, Director General of Policy and Planning; central directors of the Ministry of Public Health; Dr. Edwin Ceniza Salvador, WHO Representative for Afghanistan; Kwabena Asante, UNFPA Representative for Afghanistan; and representatives of UNICEF and other national and international partner organizations.

Addressing the meeting, the Deputy Minister for Policy and Health Promotion, Dr Muhammad Hassan Ghiasy said the core aim of the National Health Strategy is to strengthen the national health system through a systems-based approach, ensuring health equity, health security, quality service delivery, and institutional accountability.

He noted that the strategic framework, objectives, expected outcomes, national priorities, intervention pillars, and proposed programs were presented in detail, and participants were urged to provide technical and operational input—particularly on implementation, service delivery, monitoring, and coordination—to ensure the strategy is practical and can be implemented.

The Chief of Staff, Sheikh Muhammad Tahir Haleem presented comprehensive information on the strategy, describing it as a strategic choice toward achieving major national health goals through coordinated and multi-dimensional efforts.

Meanwhile, the Director General of Policy and Planning, Sayed Rasool stated that while notable improvements have been achieved in the health sector since the establishment of the Islamic Emirate, existing gaps are expected to be addressed through the finalization and implementation of this strategy, which he described as a dynamic document aligned with national realities.

Representatives of national and international organizations welcomed the draft strategy, shared their recommendations, and reaffirmed their continued cooperation with the Ministry of Public Health.

## د روغتیا ملي ستراتیژۍ د مسودې نهایي کولو په موخه مشورتي غونډه تر سره شوه

په دې غونډه کې د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي پراختیا او پالیسۍ مرستیال ښاغلي ډاکټر محمد حسن غیاثي، د مالي او اداري چارو مرستیال ښاغلي قاري عبدالولي صدیقي، د مقام د دفتر لوی رئیس الحاج شیخ محمد طاهر حلیم، د پلان او پالیسۍ لوی رئیس ډاکټر سید رسول منګل، د وزارت مرکزي رئیسانو، افغانستان لپاره د روغتیا نړیوال سازمان مشر ډاکټر ایډوین سینیزا سلواډور، افغانستان لپاره د UNFPA سازمان مشر کوابینا اسانتي او د یونیسف او نورو ملي او نړیوالو همکارو بنسټونو استازو ګډون کړی و.

ښاغلي ډاکټر محمد حسن غیاثي وویل: ( د روغتیا ملي ستراتیژۍ اساسي موخه د روغتیایي سیستم پیاوړتیا، په روغتیایي برخه کې عدالت، د روغتیا خوندیتوب، د خدماتو کیفیت لوړول او د ادارو له لوري ځواب ویل دي).

ښاغلي مرستیال زیاته کړه، په دې غونډه کې د ستراتیژۍ د جوړښت بنه، ستراتیژیکي موخې، وړ پایلې، ملي لومړیتوبونه، د مداخلو محورونه او وړاندیز شوي پروګرامونه په مفصل ډول وړاندې کېږي. موږ له ګډونوالو غوښتنه کوو، چې خپل نظرونه، وړاندیزونه او تخنیکي عملیاتي لیدلوري، په ځانګړي ډول د تطبیق، تحویل، نظارت او همغږۍ په برخو کې له موږ سره شریک کړي؛ تر څو دا سند په یو جامع، واقعي او تطبیقېدونکی سند بدل شي).

همداراز، شیخ محمد طاهر حلیم د روغتیا ملي ستراتیژۍ په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې او ویې ویل: (نن ورځ د یوې سترې موخې لپاره ستراتیژي او دې هدف ته رسېدل یو لوی انتخاب دی، چې د بېلا بېلو زاویو له لارې کار کولو ته اړتیا لري او له نېکه مرغه موږ نن ورځ په دې برخه کې خپلې هڅې رواني ساتلي دي).

دغه راز، د پلان او پالیسۍ لوی رئیس، ډاکټر سید رسول منګل وویل: (د اسلامي امارت له راتګ وروسته روغتیا برخه کې د پام وړ پرمختګ شوی دی. خو ځینې تنګونې شته، چې د دې ستراتیژۍ د نهایي کولو او تطبیق له لارې حل کېږي او دا سند یو ژوندی او تطبیقېدونکی سند دی، چې د هېواد له واقعیتونو سره سمون لري).

بل لور، د ملي او نړیوالو ادارو استازو د روغتیا ملي ستراتیژۍ وروستۍ مسودې په اړه د معلوماتو له تر لاسه کولو وروسته خپل نظرونه او وړاندیزونه شریک کړل او د عامې روغتیا وزارت سره یې د خپلو ادارو د همکارۍ ژمنې وکړې.





## د عامې روغتیا وزارت د عامه تغذیې رئیس، ډاکټر حکمت الله معصومي د غزني ولایت سیمه‌ییز روغتون اړوند د خوارځواکۍ څانګې څخه د خدماتو ارزونې په موخه لیدنه ترسره کړه

په دې لیدنه کې د عامه تغذیې رئیس، ډاکټر حکمت الله معصومي د روغتیایي کارکوونکو په فعالیتونو او خدماتو خوښي څرګنده کړه او له ناروغانو سره یې د هغوی د مسلکي چلند، ښه خدمت او منظم کار ستاینه یې وکړه.

همدارنګه، نوموړي د خدماتو لا ښه والي، خوار ځواکو ناروغانو ته د معیاري او پر وخت خدمات وړاندې کولو، اغېزمنې درملنې او کاري بهیر د پیاوړتیا په موخه اړوندو مسؤلینو ته اړینې سپارښتنې وکړې؛ څو خدمات لا اغېزمن او معیاري شي.

## داکتر حکمت‌الله معصومی، رئیس تغذیه عامه وزارت صحت عامه، به‌منظور ارزیابی خدمات از بخش سوءتغذیه مربوط شفاخانه ولایتی غزنی دیدار نمود

در جریان این دیدار، داکتر حکمت‌الله معصومی، رئیس تغذیه عامه، از فعالیت‌ها و خدمات کارمندان صحی ابراز رضایت نموده و از برخورد مسلکی، ارایه خدمات مناسب و نظم کاری آنان با بیماران قدردانی کرد.

همچنان، ایشان به‌منظور بهبود هرچه بیشتر خدمات، ارایه خدمات معیاری و به‌موقع به بیماران مبتلا به سوءتغذیه، تقویت روند تداوی مؤثر و بهبود جریان کاری، به مسوولان مربوطه هدایت‌های لازم را ارایه نمود تا خدمات صحی مؤثرتر و معیاری تر گردد.

## Dr. Hikmatullah Masoomi, Director of Public Nutrition of the Ministry of Public Health, visited Ghazni Provincial Hospital's Malnutrition Unit to assess its services

During the visit, Dr. Hikmatullah Masoomi praised the healthcare staff for their proficiency, excellent care, and well-organized service to patients.

He also gave officials recommendations to improve services, provide timely and quality care to malnourished patients, and strengthen treatment and work processes.







